# قومي مالياتي کمېشن
# او
# د پښتونخوا غوښتنې

جمشيد احمد خان

د شپږم قومي مالياتي کمېشن اېوارډ حتمي فېصله کولو د پاره د روان کال د وړومبي سېشن دوه ورځنۍ غونډه تېرو ورځو کښې د خزانې د وفاقي وزير شوکت ترين په مشرۍ کښې وشوه. په دې غونډه کښې د خزانې د وفاقي وزير نه علاوه د څلورو واړو صوبو د خزانې وزيران او د هغوي د مرستې د پاره د خزانې سکتران او ورسره ورسره د اقتصادياتو ماهرين شريک شو. واضحه دې وي چې د قومي مالياتي کمېشن د جوړولو مقصد د صوبو ترمېنځه د مالياتي وسائلو تقسيم دے. د ټولو صوبو نه د مختلفو ټېکسونو چې پکښې انکم ټېکس، وېلتهـ ټېکس، کېپټل ټېکس او کسټم ډيوټي شامله ده، د وصولۍ نه پس د قومي مالياتي کمېشن د فارمولې لاندې وفاق دغه مالياتي وسائل د ټولو صوبو ترمېنځه تقسيموي.

د موجوده نافذالعمل قومي مالياتي کمېشن د فارمولې مطابق د ټولو محصولاتو ۶۳ فيصد مرکز د ځان سره ساتي او د پاتې ټولو محصولاتو يعنې ۳۷ فيصده د ټولو صوبو ترمنځه د ابادۍ په بنياد تقسيموي. خو د کمېشن موجوده فارمولا د وړو صوبو د پاره متنازعه ده. د پښتونخوا، بلوچستان او سندهـ همېشه دا موقف پاتې شوے دے چې تقسيم د ابادۍ په ځائے د وسائلو او غربت په بنياد پکار دے.



د غونډې نه پس شوکت ترين د مېډيا د استاځو سره په خبرو اترو کښې ووې چې د وړو صوبو ټولې ګيلې به ختمو. هغۀ ووې چې شپږم قومي مالياتي کمېشن به د آبادۍ په بنياد نۀ تقسيمېږي. کمېشن کښې په دې حقله د ټولو صوبو غوښتنې اورېدلې شوې دي چې د دې نه وروستو کمېشن په اېجنډه کښې څو نور نکات شامل کړي دي چې يوه نکته پکښې د دهشت ګردۍ خلاف جنګ هم دے. وفاقي وزير دا هم ووې چې د اسلام اباد نه پس به د کمېشن غونډې په لاهور، کراچۍ، کوئټه او پېښور کښې هم کولې شي. د هغۀ د وينا مطابق به د دېرشم

ستمبر پورې شپږم قومي مالياتي كمېشن له اخري شكل وركړے شي.

د شپږم قومي مالياتي كمېشن په دې غونډه كښې د پښتونخوا په حواله يو اهم پرمختګ دا وشو چې پنجاب د پښتونخوا د پن بجلۍ د خالصې منافعې د غوښتنې د منلو حمايت كړے دے. د دې نه پس صوبه پښتونخوا ته د بجلۍ د منافعې ترلاسه كېدو امكانات تر ډېره حده پېدا شوي دي.



په شپږم قومي مالياتي كمېشن كښې د پښتونخوا نمائندګي كوونكو كښې صوبائي وزيرخزانه همايون خان او سېنېټر حاجي محمد عديل شامل وو. دوي د غونډې په دوران كښې د صوبې نورې غوښتنې هم د وفاق په مخكښې كېښودې. د پښتونخوا د اړخه غوښته وكړې شوه چې د دهشت ګردۍ خلاف په جنګ كښې د صوبې اكثرې علاقې متاثره شوې دي نو وفاق له پكار دي چې د متاثره شوو علاقو د بحالۍ د كار دپاره نور پنځۀ فيصده وسائل پښتونخوا ته وركړي.

په دې حواله د عوامي نېشنل پارټۍ سېنېټر حاجي محمد عديل مېډيا ته ووې چې د بجلۍ د خالصې منافعې د حصول دپاره مونږ په هره يوه پخوانۍ فارمولا تلو ته تيار يو. هغۀ ووې چې د ۱۹۹۰ء نه تر ۲۰۰۵ پورې د بجلۍ د منافعې د تقسيم چې كومه فېصله شوې وه د هغوي حكومت (اې اين پي) هم د هغې مطالبه كوي. سېنېټر حاجي محمد عديل ووې چې پښتونخوا دا وخت په ډېرو حوالو د سختو حالاتو او كړمو نه تېرېږي. د دهشت ګردۍ خلاف په جنګ كښې د صوبې اكثرې علاقې ډېرې زياتې متاثره شوې دي. خصوصاً په سوات كښې په لويه پېمانه تباهي شوې ده او د طالبانو خلاف د عسكري مزاحمت په دوران كښې بې شمېره كورونه او كاروبارونه تباه شوي دي. د يو سوال په ځواب كښې هغۀ ووې چې سوات كښې په سوونو سكولونه تباه كړې شوي دي او د هوټلونو د صنعت سره سره سېل ګرۍ ته هم نۀ پوره كېدونكے زيان رسېدلے دے چې له كبله ئې په زرګونو خلق بې روزګاره شوي دي. هغۀ ووې چې د پښتونخوا حكومت د قومي مالياتي كمېشن د غونډې په دوران كښې د وفاق نه غوښتنه كړې ده چې د دهشت ګردۍ خلاف جنګ كښې تباه شوي متاثره علاقو د مكملې بحالۍ دپاره ۲۰۷ اربه روپۍ پكار دي. د دې پوره كولو دپاره دې وفاق پښتونخوا ته نور پنځۀ فيصده وسائل وركړي.

حاجي عديل دا هم ووې چې د فرېنډز آف پاكستان د طرفه چې تر اوسه څومره رقم وصول كړے شوے دے پښتونخوا حكومت ته دې د دې حساب وركړے شي ځكه چې په دغه حواله چې د پښتونخوا په نوم څومره رقم راغلے دے پښتونخوا ته تر اوسه هيڅ هم نۀ دي وركړې شوي.

حاجي محمد عديل زياته كړه چې ما په غونډه كښې دا غوښتنه هم كړې ده چې د وسائلو تقسيم د ابادۍ په بنياد نۀ دے پكار او څنګه چې د ۱۹۹۰ نه وړاندې وفاق ته د ټولو محصولاتو ۲۰ فيصده او صوبو ته ۸۰ فيصده وركولې كېدل، اوس هم هغسې

پکار ده چې د صوبو مسئلې په ښه توګه هوارې شي.

د يو سوال په ځواب کښې حاجي محمد عديل ووې چې دا ځل د غونډې په دوران کښې د وفاق رويه ډېره ښه او همدردانه وه. دغه دوران کښې چې څنګه وفاقي وزير شوکت ترين زمونږ غوښتنې په سړه سينه واورېدې د هغې نه دا معلومېږي چې مرکزي حکومت د قومي مالياتي کمېشن د کشالې په هوارولو کښې اخلاص مند دے.

په دې حواله پښتواني صوبائي وزير خزانه سراج الحق د يو تپوس په ځواب کښې ووې چې ايم ايم اې په خپل دور حکومت کښې د بجلۍ د خالصې منافعې خبره کړې وه او پښتوانے صدر پروېز مشرف دې ته رضا شوے هم ؤ خو د چودري پروېزالهي د مخالفت د وجې د هغوي خبره ونۀ منلې شوه. هغۀ هم دا ومنله چې د ابادۍ په بنياد د وسائلو تقسيم د وړو صوبو حق وهل دي. سراج الحق د صوبائي حکومت د دې غوښتنې هم مرسته وکړه چې د دهشت ګردۍ په وجه د تباه شوو علاقو د بحالۍ دپاره دې صوبې ته نور پنځۀ فيصده وسائل ورکړې شي.

د پاکستان پيپلز پارټۍ صوبائي صدر سيد ظاهر علي شاه په دې حواله ووې چې د قومي مالياتي کمېشن په حاليه غونډه کښې د مرکزي حکومت رويه ډېره مفاهمتي وه، د هغۀ په قول مرکزي حکومت يو غېر متنازعه او ټولو صوبو ته قابل قبول اېوارډ راوړلو کښې سنجيده دے چې په ملک کښې يووالي ته وده ورکړې شي. هغۀ د دهشت ګردۍ نه د متاثره علاقو د بحالۍ، د بجلۍ د خالصې منافعې په حواله هم ووې چې مرکزي حکومت به دا غوښتنې ومني.

د سرحد چېمبر آف کامرس صدر شرافت علي مبارک ووې چې زۀ د صوبائي حکومت د مؤقف پوره پوره مرسته کوم، د بجلۍ جائزه منافع پکار ده چې د صوبې اقتصادي حالت برابر شي. هغۀ ووې چې د دې کمېشن اخري فېصلې راتلو کښې وخت شته خو مرکزي حکومت چې د صوبو مسائلو او غوښتنو په اورېدو کښې د کومې فراخدلۍ نه کار واخستو د هغې نه پته لګي چې مرکزي حکومت د صوبائي حقونو په منلو او ورکولو کښې مخلص دے. هغۀ ووې چې زمونږ صوبې د پاکستان د بقا جنګ کړے دے او کوي ئې چې مونږ د دې ډېر درونډ قيمت ادا کړے دے. د صوبې يو شمېر وسائل په جنګ کښې استعمالېږي نوځکه وفاق ته پکار دي چې د دې صوبې مسئلې په ترجيحي بنيادونو هوارې کړي. هغۀ زياته کړه چې د دې صوبې تجارت پېشه او صنعتکاره برادري د وفاق مثبتې رويې او د صوبائي حکومت کوششونو ته د قدر په نظر ګوري.

په دې حواله د صحافت سره وابسته شخصياتو هم د صوبائي حکومت د موقف کلکه مرسته وکړه او زياته ئې کړه چې د بجلۍ قيمتونه مسلسل زياتېږي او پښتونخوا ته د زوړ نرخ پېسې هم نۀ ورکړې کېږي. دوي ووې چې کۀ په دې وخت د وړو صوبو د شکايتونو ازاله ونۀ کړې شوه نو په صوبو کښې به مايوسي نوره هم سېوا شي او نتيجې به ئې د پاکستان په مفادو کښې نۀ وي.

(د امجد شهزاد ترجمه)

(د هم شهري لاهور ٤ ستمبر ۲۰۰۹ په مننه)